دولت جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت عدلیه
انجمن ثبات ملی

د افغانستان اسلامی جمهوري دولت
دعدلې وزارت
دملي ثبات ټولنه

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Justice
National Stability Society

په بربښنايې پيژندن پانوکې دملي هويت(افغانيت) دځای پرځای کولو او په يادې اداره کې د ژورو بدلونونو په اړه د ملي ثبات مطبوعاتي اعلاميه.

د ۱۳۹۵کال د زمري(اسد) په ۱۳ مه نېټه

څرنګه چې په بريښنايې پيژندن پانو(تذکرو) کې د ملي هويت(افغانيت) موضوع دځينو مغرضو او هېواد دښمنه کړيوو لخوا په قصدي ډول او د افغانسان داساسي قانون د۴ مادې خلاف ويستل شوې وه چې په بېلابېلو ولايتونو کې د ولسي خلکو دکلک غبرګون سره مخ او په دې اړه ستر لاريونونه ترسره شول.

د ټول ملت دغوښتنو او په دې اړه په لاره اچول شوو فشارونو له امله حکومت او په ځانګړي ډول ولسمشر ژمنه کړې وه چې په بريښنايې پيژندن پانو کې به د ملي هويت(افغانيت) موضوع ځای پرځای کوي او ددې ترڅنګ به د بريښنايې پيژندن پانو په اداره کې تخنيکي او ژور اصلاحات راولي ترڅو دا اداره په عمل کې ملي او د مغرضو کړيوو له منګولو ووځي ترڅو وشي کولی دټول ملت اراده تمثيله او د بريښنايې پيژندن پانو ملي پروسه په ټول افغانستان کې د ولسونو په مرسته بريالۍ کړي.

په دې وروستيوو کې يوځل بيا داسې معلومات له ولسونو سره شريک شوي چې نه په پيژندن پانو(تذکرو) کې د افغانيت موضوع حل شوې او نه هم په يادې اداره کې د پام وړ تغيرات راغلي او کما فی السابق هڅه کيږي چې ناقصې تذکرې هېوادوالو ته وويشي.

د اجرايه رياست لخوا ولسمشر ته د داسې مغرضانه او غيرقانوني طرحې چې پکې د ملت ديوځای کولو پرځای دملت دپاشولو هڅې کيږي دغندلو وړ دي او ملت به يې پروړاندې کلک غبرګون وښايي.

موږ يوځل بيا له حکومت او په ځانګړي ډول له ولسمشره څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د ملت سره د ترسره کړې ژمنې له مخې په تذکرو کې ملي هويت موضوع حل او په يادې اداره کې دملت دغوښتنو سره سم تغيرات رامنځته ترڅو داپروسه بريالي شي او که خدای مکړه دملت غوښتنو ته ځواب ونه ويل شي نو يوځل بيابه عام ولسونه سړکونو او ښارونو ته راووځي او په دې ترينګلو حالاتو کې به د بدو عواقبو پره د حکومت پرغاړه وي.

په درنښت

د ملي ثبات ټولنې مشرتابه

National Stability Society
Phone No: 0202512253

Website: http://millisubat.com/https://www.facebook.com/MilliSubat/?ref=hl https://twitter.com/MilliSubat
Email: info.millisubat@gmail.com **د فتر پته**: کارته سه،لسم سړک ښې لاس ته دويم کور، کابل افغانستان